مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۴/۰۴/۲۵

د پوهنتون خاطرې

(۷)

په لومړي ځل لیدلو خو یې سخت اندیښمن شوم؛ ما ویل اوس به یې سنجاق په ژبه یا تالو کې ننوځي، خوله به یې له وینو ډنډ شي او یا به یې مرۍ ته ښکته شي او ساه به یې بنده شي. خو وروسته پوه شوم چې دا یې عادت دی او ښه تمرین پکې لري.

استاد جلال الدین خان کونړی یادوم؛ هغه څوک چې عمر یې ملا را کړوپه کړي وه؛ خو حوصلې یې ځواني وې . د استاد به تل خوله کې سنجاق و. ما ترې مخامخ د پوښتنې جرئت ونکړ؛ خو له چا مې واوریدل چې د استاد خوله وچیږي او د دې د مخنیوي لپاره یې ژبه له سنجاق سره په لوبو بوخته ساتلې ده او په دې توګه یې خوله کې لاړې پیدا کیږي.

استاد، نهایت دروند او میلمه پال انسان و. دی په ناصر باغ روډ پولیسو کالونۍ کې اوسیده. د درې میاشتنیو رخصتیو په مهال یو وخت پیښور ته لاړم، استاد مې په زړه را وګرځیده او نیغ یې کور ته ورغلم. استاد، لکه د کورنۍ کوم غړی چې یې له ډیرې اوږدې مسافرۍ وروسته ډک جیبونه راستون شوی وي؛ له حده زیات خوشحاله شو. شیبه وروسته یې چای راوړ او تر اخره یې په خپلو مبارکو لاسونو پیاله راډکوله. د پاتې کیدو ډیر ټینګار یې وکړ؛ خو زه باید تللی وای. میده میده باران اوریده چې له حجرې ووتلو. که څومره ټینګ شوم چې باید همدلته ځای په ځای ترې خدای پاماني واخلم؛ خو نتیجه یې ورنکړه او تر عمومي سړک یې بدرګه کړم.

جلال الدین خان استاد د قافیې درس را کاوه؛ په داسې انداز چې ما غوندې د تنبل محصل سر هم په لومړۍ تشریح خلاصیده.

په هغه ورځ په ټولګي کې زموږ د څو محصلانو په دې بحث و چې د ښه شعر لیکلو لپاره د شعر په تخنیکونو پوهیدل ضرور دي او که د طبیعي استعداد لرل؟ بحث مو همداسې تود روان و چې استاد راننوت. موضوع مو ورسره شریکه کړه. په خندا یې وویل: ۲۵ کاله کیږي چې قافیه تدریسوم، عروض مې تدریس کړي؛ خو یو بیت هم نه شم جوړولی!

خبره یې وغځوله: د شعر د تخنیکونو زده کول او په نازیکیو یې پوهیدل مهم دي؛ خو د شعر لیکلو لپاره تر ډیره فطري استعداد او قریحه په کار ده.

ګور یې څراغان او اروا یې ښاده

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ